

شفق

سال تأسیس: ۱۳۵۹

ارگان نشراتی حزب اسلامی افغانستان

پاکستان چي نن زموږ لپاره

څه غواړي ، هغه په دي بڼه

پرون او آبل پرون هم ممکن و !!

زه ديوي شيبي لپاره هم
دظاهرشاه منلوته نه يم
تياراوددي لپاره يي هم
نه منم چي پردي يي
غواړي.

حکمتيار

اواوس دپاکستان په دريځ کي بدلون ... !

اثرات شعروادب دراستحکام وقدرت
بخشيدن سياست يك جامعه يك امرحتمي
است ؛ زيراسياست بدون فرهنگ هيچ
کاري را ازپيش برده نميتواند .

استاد "دلجو،حسيني"

من ازتمامي رهبران جهاد مي خواهم که براي
رضاي خدا(جل جلاله) وبه پاس خون شهدا ازسنگ
اندازي وکارشکني درمسير تحقق شوراي قيادي
خود داري کنند وزمينه را براي مداخلات بيگانگان
ودشمنان اسلام فراهم نسازند .

حجة الاسلام "جبرئيلي"

فرمان الهي(ج)

والعصر ○ إن الانسان لفي خسر ○ إلاالذين امنوا وعملوا الصلحت وتواصوابالحق ○ وتواصوابالصبر ○

ترجمه

وقسم به زمان که هرآيينه آدمي درزيان است مگرآنانکه ايمان آوردند وعملهاي شايسته کردند ويك ديگررا وصيت کردند به دين درست ويکديگرراوصيت کردند به شکيبايي.

بسم الله الرحمن الرحيم

شفق

سال تاسیس: ۱۳۵۹

ارگان نشراتی حزب اسلامی افغانستان

دورسوم ، سال اول ، شماره دوم (قوس - جدي ۱۳۷۰)

مطالب این شماره

١- دشفق پیغام
٢- پاکستان چي نن ...
٣-ورورحکمتیارله بهرني ژورنالستانوسره ...
٤-اواوس دپاکستان په دریځ کي بدلون
٥- مصاحبه باحجة الاسلام جبرئیلي
٦- داتومي وسلوپه کارولوسره ...
٧- مقدمه یي بربینش اسلامي
٨- مصاحبهٔ ادبي بااستاد دلجو،حسیني
٩- امریکابه هم دروسیي په څیر...
١٠- خد ماتیکه جوانان درجامعه اسلامي ...
١١- په یوګوسلاویاکي ...
١٢- غزل (شعرمنتخب این شماره)
١٣- غزل (ددي ګڼي انتخابي شعر)
١٤- داسلامي هیوادوکورني مخالفتونه ...
١٥- ضرورت همیشګي برجهاد فرهنګي
١٦- زموږپه ادب کي اسلامي رجحانات
١٧-نظام تربیتي وتحقیقي اسلام ...
١٨- رینتیني اتلان
١٩- داسلام اخلاقي نظام
٢٠- طب فني ازنظراسلام
٢١- انواع شعردرادب دري
٢٢- جهاد مي مانه (داستان)
٢٣- ګناه (لنډه کیسه)
٢٤- بحثي پیرامون حقوق ...
٢٥- حقوق امیران دربیت المال
٢٦- جستجووتشخیص منافق ...
٢٧- موږدي چاته پرینږدو
٢٨- بخش اشعار
٢٩- معرفي شهدا

مسؤول مدیر : فدامحمد "فایض"

مرستیال : عبدالرحمن "نثار"

لیکوال غړی : محمدرحیم "خنجر"

PROPERTY OF ACKU

د شفق

پیغام

زموږ فتحه چا ځنډولې ؟

خبره به بیا له هغو تکیو پیل کړوچي دا دولس دیارلس کاله موکړي ، بیابه همغه زړه کیسه تکرار کړو ، هغه زړه کیسه چي موږ ته اوس هم نوي ده اوپه نژدي راتلونکي کي یي هم دزړیدوکوم څرك نه لګیږي .

له نن نه دولس کاله وړاندي روسانو دخپلې همیشني عادت له مخي دګردو نړیوالو قوانینو په ماتولوسره زموږ پرخاوره راوبلوسل اوهغه جنایات یي وکړل چي پیړي پیړي به یي زموږ راتلونکي نسلونه یادوي، لکه چي د چنګیز اوپیرنګي هغه چي تراوسه یادوي اوګواکي داپیښي اوس زموږ د تاریخ یوه نه هیریدونکي برخه ده.زموږ موجوده نسل خوبه دسره ییږدناخوالو ترخي خاطري چیري هم هیري نکړي . هغه زړه ابي اوپه شاکړوپ پلاربه دخپل ځلمي په وینو رنګ زوي دشهادت ترخه شیبه څنګه هیره کړي چي وحشي روسانو اودهغو بریځوپه دي جرم وژلي چي په خپل هیوادکي یي دپردیو واکمني نه منله، هغه کونډه به دخپل څښتن دشهادت ترخه خاطره چیرته هیره کړي ، چي داسلام اوهیوادپه ننګ دجاني روسانوپه لاسویي سینه په مردکیو غلبیل غلبیل شوي ، هغه بي هیلي اوبي اسري بچیان به چي پلاریي روسانو اوروسي مزدورانو شهید کړي اوخپله یي دبیوسي او بیکسي څپیړي پرمخ خوړلي دخپل پلارپه وینو لړندبدن چیرته هیرکړي ؟

هو! اوس زموږهیواد وران دي اوګردهیواد مود شهیدانو په هدیره بدل شوي، هرلوري ته دشهیدانو پرمزارونو جنډي رپیږي اوسږي ته دروسانو دوحشتونو او جنایتونو داستان وریادوي ، دالس دولس کاله زموږلرشمیر هیوادوال پ خپل مرګ مړه شوي او زیاترویي خپل رب ته په خپلو وینوککړ ټټراودغلیم په ګولیو غلبیل غلبیل بدن وړي اودالړي لاروانه ده .

بنه اوس خونوله دي حالت سره هره شیبه اوهره ګړي داپوښتنه هم په ذهن کي ګرځي راګرځي چي زموږملت دادومره قرباني دڅه لپاره ورکړي ؟

تاریخ شاهددي چي زموږملت هیڅکله هم دغلامي ژوندنه دي تیرکړي او دادکائناتودرب له لوري زموږ پراولس لایتناهي احسان دي، که زموږ داولس همداسرشاره روحیه اود آزادي خوښوني جذبه نه واي ، نو له نني روس سره دغږي وهل خودومره آسانه خبره نه وه اوهغه هم دافغانستان په څیر دیوه فقیر اوتش لاسي اولس نه .

هوزموږ ملت داسلام دسرلوړي اوآزادژوندون لپاره دقرباني دګرته وروډانګل اوداسي قرباني یي ورکړي، چي ګردي نړي ورته دحیرت ګوته په غاښ کړه اوهرچاپري شاباش او آفرین ووایه .

خومتاسفانه له دي ټولوویاړنو سره سره مو اوسني حالت داس په ټپه ولاړدي، چي نژدي ده نړیوال زموږ پر بریالیتوبونو ، قهرمانیو اوقربانیو شك وکړي . موږ خوبه داویل چي که یوځل روسان له افغانستان نه ووتل بیا خو نجیبیان زموږ دیوي ورځي دټینګي هم نه دي . له افغانستان نه دروسانو دوتلو پروخت چي موږ دجدي دشپږمي په غونډو کي پرافغانستان روسي تاړاك غانده نودابه مو ویل چي هیله ده کال دامهال په آزاد اواسلامي افغانستان کي دروسانو تجاوزوغندو . له هغي ورځي نه تراوسه دادري کاله ووتل ، خو هغه شیبه رانغله اوزموږ ارمانونه لاهمغسي په زړونوکي په سلګودي آخرداولي داسي کیږي ؟

آخرڅوك زموږ دفتحي دځنډولو مسئول دي اوکه نه ؟

ایاملت اوتاریخ به په دي باب قضاوت کوي اوکه نه ؟

او آیا دملت لاس به آخرددوي ګریوان ته ورعځیږي اوکه نه ؟

وروببي خوزموږ دفتحي دځنډ پلمه دروسانو موجودیت و، خوچي روسان مات شول او په تیښته سرماتي اوپښي ماتي له افغانستان نه ووتل ، نوبیا له نجیب سره دروسانو بیدریغه مرستو دتیرو پلمو ځاي ونیوه اواوس که دامرستي هم بندي شي نوبیا ؟ راځي په واقعیتونو به سره سترګي نه پټوو ، اوپردي به اعتراف وکړو، چي زموږ فتحه نه له نجیب سره دروسانو مرستوځنډولي اونه بل څه ، بلکي هغه څه چي زموږ فتحه یي ځنډولي زموږ خپلمنځي اختلافات دي ، نوچي داسي ده اوپه دي پوهیږو چي زموږ اصلي دښمن "اختلاف" دي نوراځئ چي اول ددي چاره وکړو !!

پاکستان چي نن زموږله پاره څه غواړي ، هغه په دي بنه پرون اوآبل پرون هم ممکن و!!

سیدگلاب "سباوون"

په روم کي دظاهرشاه له زوم دتره زوي اونماینده سردارولي سره دپاکستان دلوي درستیزلیدني کتني دپاکستاني واکمنو هغه غوري اوبلندپروازي ترسوال لاندي راوستي چي دخپل اصولي موقف په نامه به یي ورنه یادونه کوله . اوځرنگ به یي ترسوال لاندي نه راولي چي : صدراعظم نوازشریف دجنرال فضل حق دمرگ په ورځوکي دپیښورپه هوایي ډگر دیوه ژورنالیست ددي پوښتني په ځواب کي چي ظاهرشاه دافغان کشالي په اواري کي څومره رول لوبولاي شي ؟ په قارجنه اوستغه لهجه وویل :" زه تعجب کوم چي یوڅوك څرنگ زماپه وړاندي دظاهرشاه دنوم داخیستو جرأت کوي ." خودهغي خبري اوددي لیدوکتوترمنځ یي لادري ځلورمیاشتي نه دي تیرشوي ، نوځکه ، په اصطلاح دپاکستان داصولي موقف په باب له نړیوالو اوپه تیروبیازموږ له مسلمان اتل ملت سره خرخش اواندیښنه راپیداکیدل یوه طبیعي خبره ده . که ترڈي دمخه به دپاکستان حکومت ځان زموږ خواخوږي اودوست ښوده ، نوموږبه هم له پاکستان سره دترخي ماضي په هیرولوترهغه زیات هغه خپل خواخوږي اوخیر خواه گاڼه .

زموږ اودپاکستان حکومت ددغه متقابل لوَر اوگرانښت یوه مشترکه وجه بنایي همدغه " ظاهردښمني " وي ، البته په دومره توپیرچي موږ ورسره دعقیدي اوایمان په بناء دښمني درلوده ، اوپاکستاني واکمنو ورسره دخپلو گټو پراساس . اوداتوپیر دروسي تولواکمني ویش ښه تراځرگند کړاي شو .

کله چي پرمشترك المنافع هیوادو دشوروي سوسیالیستي جماهیرو داتحاد دبدلانه په نیتجه کي شوروي تولواکمني په پنځلسو خپلواکو هیوادو وویشل شوه ، نوپاکستاني واکمن ترهرڅه دمخه دمنځني آسیا د نویو خپلواك شویو هیوادوسره دتجارتي اړیکو اومناسباتو دټینگولو په لټه کي شول، سیاسي اوتجارتي هیأتو یي دغو هیوادوته کاري (رسمي) سفرونه وکړل، اوان چي یولړ خیالي تجارتي تړونونه یي هم ورسره لاسلیك کړل . اوس پاکستاني واکمن شپه او ورځ په دي سوچونوکي ډوب دي چي څرنگ افغان کشاله پاي ته ورسوي، چي دمنځني آسیا تجارتي بازاریي له لاسه ونه ووځي، ځکه ، ځیني پاکستاني مقامات پردي گروهه (عقیده) دي چي دمنځني آسیا دتجارتي بازارپه انحصارولو پاکستان دسیمي دویم جاپان کیداي شي . نو دخپل دغه خوب اوخیال دریښتیني کولو له پاره مجبوردي چي دظاهرشاه لمن ونیسي، او له همدي لامله یي لوي درستیز ورسره دلیدوکتوله پاره روم ته ورځي .

اوس داگوروچي ظاهرشاه دخپلي واکمني په (٤٠) کلنه دوره کي زموږ گران هیواد افغانستان ته څومره کړاوونو اوربړونو ورپیښ کړي وو . له دي سره دیته هم یوه لنډه شان کتنه کوو، چي ولي پاکستاني واکمنو دالس دولس کاله دظاهرشاه مخالفت ته په کلکه ملاتړلي وه اوهغه یي خپل منصبي فرض گڼلي و ؟!

پردي چي ظاهرشاه ، یووخت دخپلو بیرحمه اقتدارخوښوتروپه لاسوکي لکه دگوډاگي لوبیده .

دهغوي به چي څرنگ خوښه وه همغسي به یي پري کول. دغه آقا نه یوازځي خپل واك اوخپل اختیارنه درلود، چي لازیاتره به یي دترو خوښي هم بیلابیلي اوسره متضادي وي، دیوه به یي یوشان خوښه وه اودبل بیا بل شان ؛ نو زیاتره به په دي شش وپنج کي راگیروچي دکوم تره خوښه وکړي !! دي خوښو اوناخوښو له نوموړي یو دوه ورك اودحقارت پرعقدو وراړولي و . شل دیرش کاله پري په همدي توگه تیرشول، بیایي چي له روسي واکمنو سره انډیوالي جوړه شوه، هغي یي ترترو زیات دحقارت پرعقدو ورپیښ کړ، ځکه ، روسي مشران به

دخپلې مشرۍ اوملکۍ دپخولو په فکرکې ؤ . ځانونه به يې ديوې نوې نظريې اونوې ټولنې درامنځته کولو بيرغچيان ګڼل، هسې ټولنه چې په نظرې اوذهني لحاظ به دظاهرشاه ترهغې زرونه واري غوره اودپيروۍ وړوه .

نوځکه ، داسلام له سپيڅلې اواوڅارفرهنګ څخه ناخبره ظاهرشاه دخپلې واکمنۍ دپاښت اوبقاله پاره ځان په بشپړه توګه هغوې ته تسليم کړ . او په اصطلاح دکمونيزم دايډيالي ټولنې دپيروۍ په لارکې تبليغونه پيل شول . نه يواځې کمونيست عناصروته دکمونيستې ټولنې دښيګړو دبيانولو زمينه برابره کړاي شوه ، چې لاپه خپله دظاهرشاهي دلبارليکوال هم توظيف کړاي شول چې دکمونيزم ستاينو اومدحوته دي ځانونه (اړم) کړي . ددې ترڅنګ هغوې ته داوظيفه هم ورکړل شوي وه چې څومره يې په وس کې وي په اسلام پسې بدې ردې او سپورې ستغې ووايي اووليکي . چې دلته يې دهغوني په توګه د "اصلاح" (ورځپاڼي) کاريکاتورته ګوته نيولاي شو .

په تيره بيا هغه مهال دغومذبوحانه هلوځلو اوغورځوپرځوته کارووايه شو چې اسلامي تحريک دخپلو پلوشو په ښستلو نوي پيل وکړ . دخداي (ج) په کورکې دخداي (ج) ددين خادمان په برقي ډنډو ووهل شول اودپل خشتي جومات انګړاوديوالونه دحق اوحقيقت دغوسرتيرو په وينو رنګين کړاي شول، اودهغوي زيات شمير په داسې حال کې چې بدنونه به يې په وينورنګ وو. په دهمزنګ اونوروجهنمي اړتونو (زندانو) کې بنديان کړاي شول .

اوچې پردې هم ونشوه ، اواسلامي تحريک دتسليمۍ سرټيټ نکړ، نوترپخوازيات دهغه ټکولو ته ملاوتړل شوه . مسلمان پوهنتوني شاځلمي له نويوکړاوونو سره مخ اوان چې توقيف کړاي شول، خواسلامي تحريک به دسرټيټولو پرځاي لاسرجګاوه ، چې ډيره ښه نمونه يې دمحصلينو داتحاديې په انتخاباتوکې دمسلمانو شاځلمو غوځ برې ؤ .

روسي واکمنو چې داسلامي تحريک په ځپولو کې دظاهرشاهي رژيم داړاګيزه ماته او بيوسي وليده ، نولکه په يوه بله ليکنه کې موچې هم ورته نغوته کړيده ، خپله اودظاهرشاه پرده په دي کې وليده چې ظاهرشاه له قدرته ګوښه کړي : ځکه نن دي که سبا ، ظاهرشاه به داسلامي تحريک داتلواوسرښندونکيو شاځلميو په وړاندې توره اوډال غورځوي اوميدان به هغوي ته پريږدي .

نوهماغه ؤ چې ظاهرشاه دداود دفرمايشي کودتا په ترڅ کې له هيواده پښنې سپکې کړي اودشاهي رژيم ځاي يې يوه داسې استبدادي جمهوري رژيم ونيو، دکوم په هکله چې شاعر اسلام علامه اقبال (رح) ويلي و :" ديواستبداد جمهوري قبامي پاي کوب " .

داچې دظاهرشاه پرځاي ولې داود خوښ کړاي شو؟ ښايي ددې لاندنيو لاملو له لامله وي چې : يوخوداود دظاهرشاه دتره زوي و ، نوزموږ دټولنې دمزاج په پام کې نيولو له لامله داکاروشو، بل، دداود دميرغضبي له امله . اوداله دي کبله چې که داسلامي تحريک شاځلمي دميرغضب داود په رامنځته کولو ودارکړاي شي ! او دريم داچې دداود په وسيله دشاهي رژيم پرځاي دجمهوري رژيم د رامنځته کولو له لارې ملت تخدير اوايزوله کړاي شي، ځکه دجمهوريت درامنځته کولو له پاره خوديوې نوې ځيرې ضرورت ؤ . اخير، دپاچاله خولې راوتې دجمهوريت ناره چا څرنګ منلاي شوه ؟!

اوځلورم داچې داودخان دظاهرشاه په پرتله يوځه زيات چپي ؤ.

نودهمدغو لاملو له لامله ؤ چې روسان يې په افغانستان کې دخپل بوخت خره دراايستوله پاره دظاهرشاه پرځاي دداود واکمنولو ته اړايستل . ترډې وروسته دروسانو ديرغل په ګډون په افغانستان کې ګرد رامنځته کړاي شوي بدلونونه دروسي ښکيلاک يو ضرورت اومجبوريت ؤ .

نوکه اوس خداي (ج) مکړه ، نجيب په قدرت کې پاتې کيږي ، دادروسي ښکيلاک يوځرګند اوداګيزګټات دي اوکه دناځيبه نجيب پرځاي ظاهرشاه ته ميدان اوارېږي نوداهم ، لکه پورته موچې ورته نغوته وکړه ، دروسي ښکيلاک يو ډول ګټات ګڼل په کاردي .

په بله وينا، ديوه منځګړي اوثالث په توګه دظاهرشاه بياځلې واکمنيدل تقريباً زموږ شل کلني هلي ځلي شل کاله بيرته پرځټ غورځوي.

اودادروسي ښکيلاک يوه پخواني هيله ده ، چې زموږدجهاد

دخواخوږيو په وسيله اولاس ترسره کيږي . نو دلته ده چې دشاعرپه ژبه دخپلو خواخوږيو نادودو اوکړواړوته داسي نغوته کولاي شوچي :

من ازبيگانگان هرگزننالم
که بامن هرچه کرد آن آشناکرد

له . افغانستانه دسروپوځو دوتوپروخت ، يوځل آنجهاني راجيو دظاهرشاه درامنځته کولو په هيله اسلام آباد ته راتلل وغوښتل . نوضياء الحق مرحوم ورسره کلک مخالفت وښود . اوچي راجيو پرځل ځاي دخپلو نماينده گانو دراتگ وړانديزوکړ؛ نوهغه يي هم په کلکه ردکړ . دغسي دنړي له يوه اوبل گوټ نه دغه رازوړانديز ونه وشول، اوان چي روسي واکمنو خوپري وخت پروخت بيشانه ډېر ټينگار وښود .

اخير، که هرومرو دظاهرشاه رامنځته کول زموږ دکشالي دغوځولو له پاره ضرورۍ؛ نوداکارخوپرون اوآبل پرون هم ممکن ؤ !! خوهغه مهال يي رامنځته کيدل پاکستاني واکمنو سل په سلو کي دځان له پاره ضرر گاڼه . هغوي نه غوښتل چي دظاهرشاه په رامنځته کيدويي ترخه ماضي بياراژوندي او تکرارشي . بده يي لاداچي هغوي به داسي خروگندوله چي داټوله دښمني ورسره زموږ له پاره اوزموږ پرسرکوي . خو ړوندهم پوهيږي چي شرومبي تروي دي ...

اوس چي دروسي امپراتوري په ويش دمنځني آسيادجمهوريتوبرخليك ټاکل کيدونکي دي ، نوپاکستان له دغوجمهوريتوسره دسياسي اوتجارتي اړيکو دټينگولو په لټه کي کيږي اوچي په دي باوري کيږي چي دظاهرشاه ترراوستويي داکته زياتيږي ؛ نوبيا يي زموږ خپگان اوخوشالي ته ونه کتل . او دسياسي حل ډنډوري يي په شورزوږوغږولي .

دپيښور راډيو هينداره پروگرام به مثال واخلو . دپيښور راډيو چلوونکي له ځوکلوراسي زموږ دډاډيني اوحوصلي جگولو له پاره دهينداري په نامه پروگرام خپروي . چي زموږ دروان جهاد اوانقلاب دسمسورتياله پاره پکي موعظي، تبصري اومضامين خپريږي ، خو دااوني نيمه به کيږي چي دموعظو، تبصرو اومضامينو غاړه (لحن) بدليږي . دسياسي حل هماغو مره چي لازياتي ستايني کيږي اوښيگړي يي بيانولي شي، لکه دمزدورنجيب مزدوره کابل راډيو يي چي کوي .

که په دي ورځوکي کابل اوپيښور راډيو گاني واوريدل شي ؛ نوسړي پکي هيڅ رازتوپيرنشي کولاي چي ښه دااوس کابل راډيو ده اوکه پيښورراډيو . که سړي دنطاق له اوازسره آشنا او پيژندوي نه وي؛ نوپه گرانه به پولادخان اوبازمحمدخان سره بيل کړاي شي . دنطاقانو پيژنگلي اوتميزيي لاځه کوي چي دکابل راډيو اوپيښور راډيو پروگرامونه به ورته بيخي ورته ښکاره شي . ځکه ، دايي هم دسياسي حل بيولالي واځي، اوهغه يي هم دسياسي حل اوملي په خلايني سندري غږوي .

پيښورراډيو چي کله دسياسي حل خبره کوي، دخامخا اوضرورپه ضرور حل کيدو خبره ورسره په پوره ټينگارکوي .

نه يواځي زموږله پاره پرسياسي بنياد وزموږ دريځي داواري ټينگارکوي، چي خپل ځان هم امن پسند او جمهوري ملك گڼي . دخبري سراوپاي دواړه يي امن اوسياسي حل وي .

دلته دجهاد له مشرانوسره هم يوخه دزړه خواله کول غواړو اودشاعرپه ژبه ورته وايو چي :" يك لحظه غافل بودم وصدساله راهم دورشد ."

خداي (ج) دي نه کا، که ددوي ترمنځ تيت وپرکتوب همداسي پسي دوام کوي ؛ نودملت ترمنځ به يي گرانښت اومحبوبيت نورهم کم شي ، لکه چي کم کړي يي هم دي ، اوداورته ددښمنانو اودوستانو ترکوهي کنستوزيات تاوان اړوي .

اوس ددي وخت دي چي جهادي مشران يوبل ته په اخلاص اوصدق دوروري لاسونه ورکړي، واړه واړه اختلافات شاته وغورځوي ، اوان چي که وشي خپل روا(!) اقتدارته هم لته ورکړي . ځکه ، دوي خوپرخداي (ج) اوآخرت هم ايمان لري، اوخداي (ج) پوره پوره بدله ورکوونکي دي . نوبيا انديښنه اوتراره دکومي خبري !!

که کشراومشراومجاهد اومهاجرگردسره يوموټي اويوځواك نشوو نونورموخيرنشته . که پخوامو په ځانحاني کي هم شپي تيريدي، نورمو له اتحاد اوايثار پرته شپي نه سباکيږي .

که موږه خپل ځان کي بدلون رانه ووست ؛ نو دظاهرشاه غوندي عقده من انسان به موږپرسرنوشت حاکميږي . ځکه ، اوس يوازي موږ پاته يوچي دظاهرشاه درامنځته کولو په گډون ټولي نړيوالي توطئي اودسيسي خنثي کولاي شو اوبس.

دپاکستان له مومن ولس نه زماانتظاردادي چي پرينږدي پاکستان دافغان جهاد پر خلاف په بين المللي سازشونوکي ملوث شي .

حکمتيار

دسه شنبي ورځ د ۱۳۷۰ کال دمرغومي ۱۷ مه نيټه - شهادت !

دحزب اسلامي مجاهد امير ورورحکمتيار دروانوسياسي حالاتو اودافغانستان په ستونزه پوري اړوندو پيښوپه ارتباط سپينه شګه دسما فرقي په قرارګاه کي له بهرنيو خبريالانوسره يوه مرکه کړي چي داده د درنولوستونکو لپاره يي خپروو .

(اداره)

بسم الله الرحمن الرحيم

زه ترټولو دمخه دمحترم ژورنالستان راتګ ته ښه راغلاست وايم چي دادا وږده مزل زحمت يي په ځان باندي قبول کړ اوږدي واورو اويخني کي يي تردي ځاي پوري دراتلوتکليف وايستلو ، زه ډيرممنون يم .

زموږ جهاديوي داسي حساسي اوتاريخي شيبي ته رسيدلي چي ددي ديارلس کلن جهاد سرنوشت به ټاکل کيږي .

ددښمنانوکوښښ دادي چي په افغانستان کي دمجاهدينوپه لاس اسلامي حکومت قائم نه شي، . هغوي نه غواړي چي افغان ولس دي خپل سرنوشت پخپله وټاکي اودخپلي خوښي اسلامي حکومت دي جوړکړي . دوي دخپلي خوښي حکومت پرافغان ولس تحميلول غواړي اوددي هڅه کوي چي په افغانستان کي دتل لپاره جګړه ادامه وکړي ، عدم استقراردي وي اودلته دي سوله اوامن رامنځته نه شي اوله افغانستان نه دي يوبل لبنان جوړشي . پداسي حال کي چي دپاکستان مسلمان ولس پدي ديارلسو کلونو کي په اخلاص ، صبر اواستقامت سره دافغان ولس دخپلواکي دجګړي ملاترکړي اودفشارونو په وړاندي ندي تسليم شوي . دافغان جهادله ملاتړ نه يي لاس ندي اخيستي اوتل يي پدي خبره ټينګارکړي چي افغان ولس دي خپل سرنوشت پخپله وټاکي اودنجيب حکومت پرځاي دي چي دپرديو پوځونو په لاس پرافغان ولس تحميل شوي يومنتخب اسلامي حکومت جوړشي .

موږدپاکستان له ولس نه ممنون يو پاکستان کي که اقتدار دهرچاپه لاس کي وي اودافغانستان په باب که دحکومت پاليسي هرخه وي، موږدپاکستاني ولس دابنيګني هيځکله هم نه هيروو .

متأسفانه په پاکستان کي ځينوحلقو تل ددي کوښښ کړي چي په افغانستان کي دي دمجاهدينو په لاس اسلامي حکومت جوړنه شي اودوي ددي هڅه کړي چي ظاهرشاه په افغان ولس باندي تحميل شي . دي حلقي په اصل کي دامريکا دخوشحالولو لپاره دمجاهدينو دحکومت دجوړيدو مخالفت کړي اودظاهرشاه دراوستلوکوښښ يي کړي .

زه په صراحت سره ويلي شم چي دي حلقي ته نه خپل ملي مصالح مهم دي اونه هم دافغان ولس مستقبل . متأسفانه

په اسلامي هيوادو کي ځيني داسي حلقي هم شته چي هغه دامريکايانو نه هم زياتي امريکائي دي .

ددي لپاره چي هغوي اقتدارترلاسه کړي ياپه اقتدارکي پاتي شي. د امريکا رضايت ضروري ګڼي، له هغه پرته ګومان کوي چي نه اقتدار ته رسيداي شي اونه هم په اقتدار کي پاتي کيداي شي . دوي هماغه څه وايي او هماغه څه کوي چي امريکا ورباندي خوشحاليږي .

ددي لپاره چي امريکا دبنيادګرايانو مخالف دي اودهغه لپاره لګيادي تبليغات کوي، دوي هم دبنيادګرايانو مخالفت وکړي اوداد منطقي لپاره يوخطر ګڼي . ماته داسي معلوميږي چي اوس دهمدغي معيني حلقي دهڅو په نتيجه کي دپاکستان حکومت دامريکا ددي پلان سره موافقه کړيده چي ظاهرشاه ته اقتدار ورحواله شي . دظاهرشاه سره په روم کي دپاکستان دپوځ دلوي درستيزدليدني کتني پروګرام برابرول اودپاکستان حکومت له هغه سره موافقه دابنيي چي

شاید دپاکستان حکومت ددي خبري سره موافقه کړې وي . زمامعلومات دادي چي دایټالیا حکومت غوښتل چي دملاقات دظاهرشاه په قصرکي وشي . ترڅو ظاهرشاه ته زیات اهمیت ورکړي . خوچي کله دغه ملاقات هلته ونشونو بیادپاکستان په سفارت کي دليدني کتني لپاره ترتیبات ونیولي شول . دایټالیا حکومت ظاهرشاه ته مشوره ورکړه چي سفارت ته دملاقات لپاره ورنشي اودهغه په ځاي بي سرداروليي وروليږلو . له دي نه دمخه به دپاکستان حکومت دزیاتو فشارونو سره سره ددي خبري منلوته تیاري نه ښودلو او دهغه مخالفت بي کولو . انګریزانو ، امریکااو هند همیشه ددي کوښښ کړي چي پاکستان دي خبري ته تیارشي یامجبورشي چي اقتدار ظاهرشاه ته وسپارلي شي او دهغه له راتلوسره موافقه وکړي . ولي دپاکستان دحکومت اوخاص طور دپوځ پالیسي داوه چي باید راتلونکي حکومت دافغان ولس په خوښه جوړشي .

اوله بهرنه پرافغان ولس باندي حکومت تحمیل نه شي اوکه ددي هڅه کیږي نولږترلږه پاکستان باید په هغه کي طرف نه وي . زه دپاکستان دهغو مسئولو حلقو اوشخصیتونو نه ممنون یم چي نه بي دي غوښتي چي پاکستان دي دافغان ولس په خلاف په بین المللي سازشونو کي شریك شي اوتل بي په دي خبري باندي ټینګارکړي چي راتلونکي حکومت دي دافغان ولس په خوښه جوړشي اومنتخب حکومت دي ددي موجوده حکومت ځاي ونیسي . زما معلومات دادي چي دتیرحکومت په دوران کي هم ددي کوښښ وشو چي دظاهرشاه دراتلولپاره لارهواره شي . پدي باب هند- کابل - ایران - روس اوامریکاته هیأتونه ولیږلاي شول اوله هغوسره خبري اتري وشوي، ولي دمعلومات له مخي پوځ ددي سره موافقه ونه کړه دتیرحکومت صدراعظمي محترمي بي نظیربوټو ماته دیاسرعرفات په مخ کي همداخبره وکړه اویاسرعرفات مخصوصاً داخبره وکړه چي باید تاسو چي دملت _ دیوي لويي برخي نه نماینده ګي کوي اوقیادت اورهبري دتاسو په لاس کي ده اوترټولو نه ستراومنظم حزب دتاسودي ، ددي مسئلي دحل لپاره راوړاندي شي او په افغان ولس اوپه دغوکسانو چي دافغان ولس په خلاف بي داجنایات کړي رحم وکړي ، داستادقوم اودولس زامن دي اوهغوي په خپله غیره کي ونیسي او یایوائتلافي حکومت ومني، ماداائتلافي حکومت مخالفت وکړاوومي ویل چي داغیرعملي دي ، نوویل بي چي مؤقتاً ظاهرشاه قبول کړي . خومایاسرعرفات ته په هغه میټنګ کي چي محترمه بي نظیربوټو اودهغي ټول مشاورین اودبهرنیو چارو دوزارت تقریباً اکثرمهم پرسونل حاضروځیني وزیران او مشاورین بي هم وو بیاداخبره په واضحو الفاظو سره وکړه چي ظاهرشاه په راتلونکي افغانستان کي هیڅ چانس نلري اودهغه دراتلوهیڅ امکان نشته او افغان ولس دیته تیارندي چي هغه دیوي شیبي لپاره هم ومني .

ماته دبي نظیربوټویومشاور چي زه دهغه دنوم له اخیستلو نه ډډه کوم په یوبل خصوصي میټنګ کي وویل چي که ظاهرشاه راشي نو تاسوبه څه کوي، ماویل طبیعي ده موربه جګړه کوو، نوهغه په خندا اوتوکو سره وویل چي بیا به موږدتاسوپه خلاف جنګیږو، ددي نه معلومیدله چي هغوي څه وايي . کوي دتاسو حکومت به جوړیږي ، تاسو دیوي محدودي مودي لپاره له هغه سره موافقه وکړي چي ظاهرشاه راشي . که تاسي داخبره ومنله نورنو دامسئله حل ده . ماورته وویل چي زه دیوي شیبي لپاره هم دظاهرشاه منلوته تیارنه یم او ددي لپاره بي هم نه منم چي پردي بي غواړي . تاسو شاید ددي لپاره توجیه وړندي کوي چي پردي بي غواړي نوتاسو هم ورباندي موافقه څرګنده کړي اوزماله خواپه دي خاطر ظاهرشاه دمنلو وړندي چي نوربي غواړي .ماویل چي نورغواړي هغه دپاچاپه حیث راولي نه دیومؤقت حکومت درئیس په حیث . هغه دیوشخص په حیث نه راولي بلکي داهغه زوړ سیستم بیرته پرافغان ولس تحمیلول غواړي ماویل که تاسو دمسئلي حل غواړي ، نوموږدیته تیاریو ، نجیب دي لري شي اودهغه ځاي دي یو مؤقت حکومت ونیسي ، پدي مؤقت حکومت کي باید غیرمتنازع فیه شخصیتونه عضویت اوغړیتوب ولري، بیا اوربند تأمین شي ، بیادي انتخابات وشي اوقدرت دي منتخب حکومت ته انتقال شي .

نجیب اوملګري بي ، ظاهرشاه اوپلویان بي اوداحزابو مشران ټول

څوك چي دافغانستان څخه لبنان جوړول غواړي هغه دظاهرشاه دراتلوغوښتنه کوي

خوموږګومان نه کولو چي دموجوده حکومت په دوران کي به داسي کاروشي چي پاکستان دي دظاهرشاه له راتلوسره موافقه وکړي . متأسفانه ماته څوورځي دمخه دپاکستان دحکومت دیومسئول شخص له خواوویلي شول چي ګویا روس - امریکا - ایران - سعودي اوپه پاکستان کي ځینو حلقو اوتاسوبي پیژني چي ځیني افغاني ډلوهم ، ټولو ددي سره توافق کړي چي ظاهرشاه دي راشي اودعبوري حکومت قیادت سمبال کړي . تاسو داخبره ومني . که تاسو داخبره ومنله نومسئله حل کیږي . تاسو هغه دیوي مؤقتي مودي لپاره قبول کړي دکافي بین المللي تضمیناتوسره چي داحکومت به په یو دائمي حکومت نه بدلیږي اوددي حکومت په دوران کي به خامخا انتخابات ترسره کیږي اوپه انتخاباتو کي ولس تاسوسره دي ، اکثریت به تاسو ترلاسه متنازع فیه شخصیتونه دي له دغونه پرته دي یومؤقت حکومت جوړشي ، که په بنګله دیش کي داسي عبوري حکومت راتلاي شي نوپه افغانستان کي ولي نشي راتلاي ، که په پاکستان کي دجناب جتوئي صاحب عبوري حکومت جوړیداي شي نوپه افغانستان کي ولي داسي عبوري حکومت نشي جوړیداي .

ماآبله ورځ په یوه ګډه جلسه کي نورو رهبرانوته وویل چي که غواړي داقتدار لپاره نورپه افغانستان کي وینه توی نشي دیوبل په خلاف وسله استعمال نشي ، دپوځي اقداماتو له لاري دقدرت دلاس ته راوړلو هڅه ونشي نوراځي په یو دغسي عبوري حکومت توافق وکړو، بیا انتخابات دیواصل په حیث ومنو چي ددي نه بعد به اقتدار دتل لپاره دیولاس نه بل لاس ته صرف دانتخاباتو له لاري نه انتقال کیږي اوله بلي لاري نه به څوك د

قدرت دلاس ته راوړلو کوښښ نه کوي .

راځئ تعهدوکړوچي دسازشونو له لاري نه به حکومت ته درسیدلو کوښښ نه کوو، بلکي پدي باندي تعهد وکړو چي راتلونکي حکومتونه به دافغان ولس رايي ته دمراجعي کولو له لاري نه جوړيږي .

ماهغوي ته وويل چي زه دي ته تيارېم چي دزروکسانونومونه تاسوته درکړم . له حزب اسلامي نه پرته دنورو پارټيو او افغانانو، ددوي له منځه دي. يوحکومت جوړ شي ، صدارت دي هم هغوي ته وسپارل شي ، موږخپل وزارتونه هم نوروته سپارو ،مويدا منو . وموويل که تاسو ددي ناحيي نه ويره لري چي حزب به پوځ کي نفوذ لري، حزب زيات شمير وسلوال مجاهدين لري، نوزه دي ته تيارېم چي تاسوته په هروالفاظو په هرترتيب چي تاسو مطمئن کيداي شي اطمينان درکړم چي حزب به ددغي خبري په نسبت تعهد کوي ددي حکومت به مرسته کوي، دانتخاباتو نتائج به مني اوچي چاهم اکثريت ترلاسه کړ دهغه حکومت به قبول کړي .

زه همدغه حکومت چي نوري پارټي يي جوړکړي ، ددي زرو کسانونه څيني انتخاب کړي اوداحکومت جوړکړي ، زه هغه منم . مشروط پدي چي داحکومت حتماً بايد عبوري وي ، دغيرمتنازع فيه شخصيتونونه جوړشوي وي . انتخابات تضمين شي . تريو کال نه په کمه موده کي انتخابات ترسره شي اوله بهر نه په افغان ولس دحکومتونو دتحميلولو هڅه ونشي ، زموږصرف دغه شرائط دي .

زموږ حزب په غير ومنتخبوحکومتونوکي نه دصدارت لپاره کانديدي اونه په کي وزارتونه غواړي ، خوکه څوک له نورو لارونه دحکومت جوړولو هڅه وکړي نومعني يي داده چي هغه نورو احزابوته دجنگ بلنه ورکوي . پدي صورت کي به مسئوليت دهغوي په غاړه وي اوبايد هم ټول پوه شي چي دنورولارو نه پرافغان ولس باندي دحکومت کولو امکانات دتل لپاره ختم شوي . زه داتپوس کوم چي ولي دظاهرشاه خبره کيږي ؟

مگر دظاهرشاه نه پرته بل افغان نشته چي ددي اهليت اوکفايت ولري چي هغه دموقتي مرحلي لپاره دافغانستان چاري سمبال کړي ؟

حال داچي هغه زوړ ، بي کفايته ، نااهله ، مفسد او ترټولو نه زيات متنازع فيه دي . په بل هرشخص شايد توافق راشي خوپه ظاهرشاه باندي توافق محال دي .

زه دهغوکسانواستدلال ته هم حيران يم چي وايي حالات بدل شوي ، دروسيي امپراطوري ختمه شوي، دمرکزي آسيا محکوم رياستونه خپلواک شوي اواوس پاکستان غواړي چي دافغانستان مسئله ډير ژرحل شي، ترڅوهغه ددغوخپلواکو مستقلو هيوادوسره اقتصادي اوسوداگري اړيکي ټينگي کړي ، پدي خاطر پاکستان مجبور دي چي دافغانستان مسئله ډير ژر حل کړي . چاويلي چي پاکستان دي دافغانستان مسئله ژرنه حل کوي !؟

خومره چي کولاي يي شي هومره دي ژرحل کړي . هيڅوک ددي مانع ندي . خو دظاهرشاه په راتلوسره دافغانستان مسئله نشي حل کيداي اودظاهرشاه په راتلوسره دافغانستان له لاري دپاکستان اوهغواسلامي خپلواکوریاستونو ترمنځ لاره هم نشي پرانستل کيداي ! داهدف په هغه صورت کي ترلاسه کيداي شي راتلي .

شايد څيني ديته زړه ښه کړي چي کيداي شي ظاهرشاه پدي ترتيب راشي چي صرف نجيب بدل شي، پوځ په خپل حال وي ،خاد ، مليشه ، داموجود اداري پرسونل ټول پخپل ځاي پاتي شي ، صرف يوشخصي بدل شي، نجيب ولاړشي او دهغه ځاي ظاهرشاه ونيسي اوپدي ترتيب شايد ظاهرشاه پدي وتوانيداي شي چي ملك اداره کړي . خو زه لومړي داخبره مستحيل گڼم ، دنجيب په تلو سره به هرڅه بدليږي اوهيڅ اداره به هم پخپل حال نه پاتي کيږي .

دامريکائيانو طرحه همداده چي غواړي نجيب اوغرب گرايان سره په يوي ائتلافي جبهي کي راغونډکړي ، بيا هغوي يوائتلافي حکومت جوړکړي .

بياددي ائتلافي حکومت مشري ظاهرشاه ته وسپارل شي . داسي گومان کوي چي پدي ترتيب کيدلاي شي . دنجيب ټول نظم او اداره اوقوت به په خپل حال پاتي شي اومنتها غرب گرايانې دلي به هم په هغوي علاوه شي ، شايد پدي ترتيب داائتلافي حکومت وتوانيدلاي شي چي افغانستان اداره کړي

زه دايران ولس ته وايم که په افغانستان کي شاهي نظام راگرځيداي شي نوپه ايران کي هم داتجربه تکراريداي شي.

چي په افغانستان کي يوقوي مستقر حکومت راشي، ملك اداره کړاي شي . چي په افغانستان کي عدم استقرار وي ، جگړه وي ، بي امنيتي وي ، ضعيف حکومت وي، څنگه هغه گومان کوي چي نورو ملکونو ته به ددي لاره هواره شي چي دمسلمانو اوخپلواکورياستونو سره اقتصادي اوسوداگري اړيکي له دي لاري تأمين کړي . ظاهرشاه نوردافغانستان له اداري نه عاجزدي ، افغانستان اوس هغه زوړ افغانستان ندي چي داسي ضعيف اونااهله خلك وريباندي حکومت وکولاي شي . دده په راتلوسره به جگړه خامخا ادامه کوي . ظاهرشاه په هغه صورت کي راتلي شي چي له بهرنه څولکه پوځ دهغه په څواکي راشي اوداپوځ ظاهرشاه دببرك په شان افغان ولس باندي تحميل کړي له دي نه ماسوا دبلي لاري نه نشي

دامريکاڅرگنداورسمي موقف دادي چي لومړي بايد اوربند تأمين شي، بيابين الافغاني مذاکرات ، بيا لويه جرگه اودهغي له لاري نه دائمي اوثابت حکومت .

موږوايوچي بايد لومړي عبوري حکومت دغيرمتنازع فيه شخصيتونو نه ، بيا دقدرت انتقال دي عبوري حکومت ته ، بيااوربند بياانتخابات .

زه نجيب اودهغه دملگروحالت ته هم حيران يم چي هغوي څنگه تصورکوي چي دظاهرشاه په راتلوسره به دهغوي مستقبل تضمين او تأمين شي . که ظاهرشاه راځي نوحقيقت دادي ، چي ددوي مستقبل سخت په خطرکي دي ، هيڅوک به ددي توان اوقدرت ونلري چي د هغوي راتلونکي تضمين کړاي شي .

زه ديوي شيبي لپاره هم دظاهرشاه منلوته تيارنه يم او ددي لپاره يي هم نه منم چي پردي يي غواړي.

زمامختصر مقدماتي خبري همداوي، اميدي چي که څه پوښتنه وي زه هغي ته ځواب وويلي شم .

پوښتنه : تاسووويل چي حزب دننه په پوځ کي هم اثرلري اواکثريت هم ورسره دي . داسي حالات نشي کيداي چي په نژدي راتلونکي کي په هغي باندي څه تبديلي راشي ؟

ځواب : څه چي حزب په گذشته کي کړي نوپه راتلونکي کي هم دهغه دکولو اوبيا تکرار احتمال شته . که پرون حزب داتوان اوظرفيت درلود ، نن يي بايد په اولي درجه ولري . که زموږ په خلاف ددښمنانو له خوا او متأسفانه دځينو دوستنما حلقو له خوا سازشونه نه واي شوي نودنجيب حکومت به لاډير دمخه ختم وو، زه متأسفانه اوس هغه نشم توضيح کولاي . خو په خپل وخت کي چي کله په افغانستان کي دمجاهدينو حکومت جوړشي بيا به زه هغه نړي ته واضح کوم چي زموږ په خلاف کوم پټ پټ سازشونه شوي وو . ددښمنانو خوځرگندي . حتي دځينو دوستانو. دابه په خپل وخت کي انشاء الله کوو .

سوال : انجنيرصاحب ! گفتيدکه يك حکومتي بيايد که هيچ شخصيت متنازع فيه درآن شرکت نداشته باشد وبعدازآن وعده هم کندکه درظرف چندماه انتخابات رادرافغانستان براه بياندازد. همينطورحکومت وجود داردکه درآن پنج شش تنظيم هم اشتراك دارند . اگراين حکومت به شمابگويدکه درين انتخابات نجيب هم شرکت نمايد آياشما اين پيشنهاد راقبول مي کنيد ؟

ځواب : دستاسو کوم حکومت مراددي ، دنجيب حکومت که کوم بل حکومت !؟ بل حکومت خوزه نگورم . که ستاسو مراد هغه سابقه منحل شوي حکومت وي، نوهغه خومنحل شوي، هغه ختم دي ، هغه دفن شوي اودهغه حکومت په نسبت زموږ ځيني شرايط ندي پوره شوي . موږ وايوچي په هغه کي رهبران غريتوب ولري . ځکه رهبران ټول متنازع فيه دي ، درهبرانونه دي پرته جوړشي . هغه حکومت موږ امتحان کړي ، هغه ناکامه شو او داترخه تجربه نبايد چي بيرته تکرار کړو اوبل داچي له دي نه پس په داسي حکومت کي چي له ملك نه بهرجوړيږي گډون نکوو اوکوم حکومت چي موږغواړو هغه بايد په کابل کي جوړشي اودنجيب دحکومت ځاي دي ونيسي . نه په پيښوركي ، پيښوركي تياردپاکستان يوحکومت شته هغه کفايت کوي .

پوښتنه : په سعودي عربستان کي کيدونکي کنفرانس ته دحزب دبللو او گډون کولو په باب پوښتنه وشوه چي داسي ځوابيځ وركړ .

ځواب: له موږنه لاتراوسه رسماً پدي هکله غوښتنه نده شوي اوموږبه پدي باندي فکرکوو او وروسته به خپل تصميم اعلانوو . دحزب اسلامي اجرائيه شورابه دغسي کنفرانس په ټولو جوانبو باندي غور کوي ،څوك به پدي کي گډون کوي، اجندا څه ده ، حزب ته دگډون کولو امکان شته که نه ، له هغه نه وروسته به خپل موقف اعلانوو .

پوښتنه : آياکيداي شي دافغانستان کشاله دنوبو سياسي نوښتونو له لاري دشپږو مياشتو په اوږدو کي حل وفصل شي ، ستاسو نظر پدي باب څه دي ؟

ځواب : زموږاميد دادي چي ترشپږوومياشتونه هم په لنډه موده کي حتي دهغوي ژوند تضمين کړاي شي .

څوك چي غواړي له افغانستان نه لبنان جوړکړي ، صرف دغه کسان به دظاهرشاه دراتلوغوښتنه اودهغه سره به موافقه کوي ، عجيبه اودتأسف وړ خوداده چي اورو . دايران موجوده حکومت هم ددي سره موافقه کړي ، دايران په باب هم ويل کيږي چي هغوي ددي سره موافقه کړي خو ايران تراوسه رسماً ددي خبري تأييد اوتکذيب ندي کړي .

زه ايراني ولس ته وايم چي که په افغانستان کي شاهي نظام راگرځيداي شي نوپه ايران کي هم داتجربه تکراريداي شي ، خوزه باورلرم چي دايران مسلمان ولس اودايران مؤمن انقلابيون په هيڅکله ديته اجازه ورنکړي . صرف يوه محدوده اوغربي مشربه حلقه دغه کارکوي .

دپاکستان له مؤمن ولس نه زما انتظار دادي چي پرينږدي چي پاکستان دافغان جهاد په خلاف په بين المللي سازشونوکي ملوث شي، اودداسي يوحکومت سره موافقه وکړي چي له بهرنه په افغان ولس باندي تحميل کيږي . دپاکستان موقف بايد اصولاً داوي چي دنجيب حکومت په ځاي دي يوعبوري حکومت راشي، بيادي اوربند تأمين شي ،بيادي انتخابات وشي او ددي لاري نه چي چااکثريت ترلاسه کړ هغه دي راتلونکي حکومت جوړکړي . پاکستان دي دامريکاپه خاطر دغه کارنکوي چي له بهرنه پرافغان ولس باندي دپرديودخوښي حکومت تحميل شي .

پاکستان ته ترامريکانه افغانستان زيات مهم دي . زه هغوپاکستاني وروڼوته داهم وايم چي که پاکستان دامريکالپاره هرڅه وکړي نوامريکا به يي دخپلو ګټو لپاره قرباني کوي، امريکا به ترپاکستان نه هندته ترجيح ورکوي اولکه څنګه چي يي په گذشته کي داسي کړي په راتلونکي کي به يي هم همدغسي کوي ! که په افغانستان کي دامريکا دخوښي حکومت راغلو نودپاکستان اوافغانستان ترمنځ به سابقه ترخي تجربي به يوځل بياحکومتونه دپاکستان حل بيا تکراريږي ! اوبيا به دافغانستان حکومتونه دپاکستان په خلاف استعماليږي ! زه پاکستاني وروڼوته وايم چي دبيرك اودظاهرشاه دراوستلوترمنځ فرق څه دي ؟ هغه روسانوراوستلو دا امريکاراولي !

زه په صريحوالفاظو داخبراعلانوم چي زموږموقف به دظاهرشاه دحکومت په خلاف همغه وي چي دبيرك اودنجيب په خلاف وو . هيچاته به ددي موقع ورنکړو چي دخپلي خوښي حکومت پرافغان ولس باندي تحميل کړي . موږبه ددغوسازشونوپه خلاف په کلکه اوپه ميړانه و دريږو دانجام اوپاي نه يي هم ويره نلرو . موږ دالله جل شانه سره داتعهدکړي چي يابه داسلامي حکومت ترسيوري لاندي ژوند کوو اويابه په د ي لاركي په شهادت رسيږو .

دافغانستان مسئله حل شي ، خوكه څوك گومان كوي چي ددغو تلاشونوله لاري به دافغانستان مسئله حل كيږي كوم ته چي مامخكي اشاره وكړه نوهغوي اشتباه كوي .

پوښتنه : يقيني خبره ده چي پاكستان ، ايران ، سعودي عرب ، امريكا اوروس اودمجاهدينو ځيني پارټي پدي راضي دي

دظاهرشاه اوببرك ترمنځ يوازني توپيردادي چي هغه روسانو راوست اودا به امريكا يان راولي.

چي ظاهرشاه راشي نوپداسي حالاتوكي به هغه څه ونشي كوم څه چي هغوي غواړي ، پداسي حال كي چي تاسوپخپل مؤقف كي تقريباً يواځي ياست ؟

ځواب : كه زموږ نه پرته دامسئله حل كيداي شي نوولي انتظار كوي حل دي كړي ؟ كه يواځي موږپاتي يو نو دامسئله بايد ډير دمخه حل شوي واي . موږ نه يواځي پخپل ولس كي يواځي نه يو تول افغان ولس زموږسره دي بلكي په بهركي هم تول اسلامي امت په خپلي خواكي وينو ! حتي كه ځيني حكومتونه زموږمخالفت هم وكړي زه باور لرم چي امت له موږسره دي . ترټولو نه زيات لويه خبره داده چي موږ دالله جل شانه په اتكاء اعتماد اواتكال داجهاد پيل كړي الله جل شانه له موږسره دي موږبه حقه يواو پدي خاطر موږ مطمئن يوچي الله جل شانه به زموږ مرسته كوي .

زه تاسوته قسماً وايم چي تراوسه ماله الله جل شانه نه پرته په بل اعتماد ندي كړي . اوپه بل چامي حساب ندي كړي ، يواځيني اميدمي الله جل جلاله دي .

دجهاد له پيل نه ترننه پوري اوزه له هغي ورځي ، نه ، ويريږم چي دالله جل شانه نه مي پرته په بل چا اعتمادوي اوبل چاته مي اميدوي . كه موږوتوانيدلاي شوو چي روسانو ته ماتي وركړو انشاء الله نوري توطئي به هم په آساني سره دالله په مرسته شنډه وو .

پوښتنه : انجنيرصاحب ! په جرمني كي هم ديوكنفرانس دجوړيدو تياري روان دي چي په هغه كي به دافغانستان دستونزو دحل راپيدا كولو لاري چاري وڅيړل شي . ستاسو په نظر به دمسئلي په حل كي ددي څه موثريت وي كه څنگه ؟ اوتاسوبه پدي كي گډون وكړي ؟

ځواب : زه گومان نه كوم چي ددغو كنفرانسونو له لاري دافغانستان مسئله حل شي . خومورته رسماً څه دعوتنامه نده راپارل شوي اوتراوسه پوري موږهم خپل رسمي كوم موقف ندي څرگندكړي . موږ به ډير ژرخپل موقف پدي هكله څرگندكړو . كه موږ په هغه كي گډون هم كوو نودي ته به ترجيح وركړو چي بايد مجاهدينو گډ هيأت ولاړشي ، دهغوي موقف يووي اوهلته يواځي دمجاهدينو دموقف دبيانولو لپاره ولاړشي نه دبل كوم مقصد لپاره .

پوښتنه : دنگتيف سيمتري معاهده دجنوري له لومړي نيټي څخه نافذه وه ، آياتاسو داسي كومه ذريعه لري چي دكابل حكومت ته دوسلو راتگ جاري دي اوكه داښند شوي اوآيا ددي په وجه پرتاسو څه فشار راځي كه نه ؟

ځواب : دهوا له لاري نه دكابل رژيم ته دروسيي نه دوسائلو اومهماتو راتگ دتيري مياشتي له شپاړسمي نيټي نه راپديخوا متوقف شوي امادځمكي له لاري ددي لړي جاري ده . آهلي ورځي پوري چي موږكوم معلومات درلودلو نوداسلسله جاري ساتل شويده .

پوښتنه : انجنيرصاحب ! كابل حكومت ته دوسلو دراليږلو مشكل څرنگه چي تاسو ووپل پخپل حال جاري دي ، خوددي په څنگ كي دكابل ښاوخوا سيمونه دخوراكي موادو كابل ته دليږلو سلسله هم لانده بنده شوي اوځيني قوماندانان دټكس په اخيستلو سره داموادو كابل ته پريږدي اويقيني خبره ده چي داموادو ددي حكومت دعمر په اوږديدوكي مؤثر رول لري آياتاسو ددي موادو دبندولو لپاره كوم پروگرام ترلاس لاندي لري ؟

ځواب : ترزيات حدپوري پدي كي پرمختگ شوي اودكابل محاصره تشديد شوي اواكثره لاري بندي شوي ترڅوله اطرافونه غذايي مواد هغوسارونوته رانه شي چي دكابل دړژيم ترتسلط لاندي دي . خو دقاچاق مخنيوي څه آسان كار ندي اوحتي په هغو ملكونوكي چي هلته وسيع پوليس اوپوځ لري هلته هم دقاچاق سلسله جاري ده . دافغانستان غونډي حالاتوكي خوددي كاملاً مخنيوي گران دي، ولي ترډيره حده پوري په دي كي پرمختگ شوي . دااوس كه تاسو له ماسره لوگرته ولاړشي نوتاسوبه په خپلو سترگو ووينئ چي ددي لاري نه تگ راتگ كاملاً بند دي .

پوښتنه : كه ظاهرشاه راشي اودادي رش لكه كم زيات مهاجرين چي په پاكستان كي ميشته دي ټول يانيم ددي خلاف شي نوآياله دي نه به په پاكستانيانو كي څه گډودي ياجنگ جگړه رامنځ ته نشي ؟

ځواب : په مهاجرينوكي ډيرمحدود كسان داسي شته چي هغه دي دظاهرشاه دراتلوطرفداروي خوددي احتمال چي كه ظاهرشاه دبهرنيو سازشونو په نتيجه كي پرافغانستان تحميل شي نودلته په پاكستان كي هم له دي نه مشكلات رامنځ ته شي ، شايد پاكستان دي ته مجبورشي چي دظاهرشاه دطرفدارانو دمحافظت (سكيورټي) له پاره خاصي انتظامات ونيسي .

پوښتنه : دماسكو له خبرواترو راهيسي دماسكو ددريځ اودايران دموقف په باره كي پوښتنه وشوه .

ځواب : ماسكو دمجاهدينو سره په خبرو اتروكي له مجاهدينو سره مخلص نه بريښي . دهغوي زياتره تركيز دخپلو اسراو دخوشي كولو په باره كي دي اوداچي دافغانستان دمسئلي دحل لپاره دبنيادي لاري پلټنه وشي پدي هكله هغوي زيات اهتمام نلري . پدي خاطر موږ څه خاصه توضع له دي مذاكراتو نه نلرو اوپه همدي خاطرهم موږدماسكو په مذاكراتو كي شركت ونكړ . دايران په هكله بايد دومره ووايم چي موږ دايران دحكومت له خوادافغان مسئلي په باب پاليسي باندي زيات ملاحظات لرو اوحتي دغه څه چي اوس دكومكونو ترنامه لاندي هم كوي، پدي هكله هم زيات قانع نه يو ! نه يي له انگيزي نه اونه يي هم له ترتيب نه .

يوپاكستاني خبريال دروسي هيأت دمشرروتسكوي سفر ته چي پاكستان ته يي وكړ اودمجاهدينو سره يي هم ليدني وكړي اوهمداراز پدي باب چي دروسيي

پاتي په (٣٤) مخ كي

او اوس

دپاکستان په دریځ کي بدلون

قریب الرحمن "سعید"

دجنوري دمیاشتي په لمړي اوني کي دپاکستان لوي درستیز جنرال آصف نواز جنجوعه امریکاته درسمي سفر په وخت کي په ناڅاپي توګه دایتالیې په مرکز روم کي ښکته شو اوهلته ئي دپخواني مخلوع پاچا محمدظاهرشاه دزوم جنرال سردار عبدالولي سره دپاکستان په سفارت کي لیدنه وکړه ، دلیدني کتني سمدستي وروسته سردارعبدالولي اعلان وکړچي دالیدنه دپخواني پاچاسره د راتلونکي لیدنوکتنوله پاره یوه مقدمه ده اوممکن په راتلونکي نږدي وخت کي دپاکستاني مقاماتواوظاهرشاه ترمینځ لیدنه وشي .

داچي ولي دپاکستان به بهرني سیاست کي داسي ۱۸۰ درجي تغیرراغي اوبیاولي دبهرنیوچارو دکوم مامور پرځاي دپاکستان دټولو قواو قوماندان دي ته اړووت چي له روم څخه لیدنه وکړي ډیر عوامل لري . هغه عوامل چي پخپله دپاکستان حکومت ئي ددي تغیرپه خاطر بیانوي په لنده توګه دادي چي ګویا دروسي فیدراسیون دجمهوررئیس دمعاون ددوري په وخت کي چي تیرکال ددسمبر په میاشت کي پائي ته ورسیده افغان مجاهدینودپاکستان دمقاماتو دبیا بیا غوښتني سره سره بیاهم یوروسي بندي دې هیئت ته ورنکړ. په داسي حال کي چي مجاهدینو دجنګي بندیانو دبریښۆلو ژمنه هلته دمسکو ددوري په وخت کي کړي وه همداراز ګیله کوي چي ګویا مجاهدینو مونږته سپک کتلي اوزمونږ دجمهوررئیس اوصدراعظم په شمول دهیڅاغوستنوته ئي مثبت ځواب ورنکړ . دوي همداراز وائي چي مجاهدین په هیڅ یوه واحده طرحه باندي نه سره راټولیږي ، په دې اساس دي ته اړتیاده چي مونږله خپلي لاري داسي کومه پریکړه وکړو چي دپاکستان ګټي په کي خوندي پاته شي . بل مهم اوستر دلیل داوړاندي کوي چي اوس دپخواني شوروي اتحاد پوري اړوند اسلامي جمهوریتونه آزاد شوي هغوي غواړي زمونږ سره ښه تجارت ولري، مونږ هم داقتصادي رکود نه دخلاصون په خاطر غواړو دي هیوادونوته ترګرمواوبوپوري لاروړکړو ، خوددې ټولو معاملو ترمخ یواځني خنډافغانستان دي، په افغانستان کي اوس کورني جنګ دي، اودمرکزي آسیا هیوادونه نجیب ته پرمجاهدینو برتري ورکوي اوپه اصطلاح پاکستان ته ئي اخطار ورکړي چي باید په افغانستان کي دیواسلامي بنسټ پاله حکومت دجوړیدو څخه مخنیوي وکړي ، په دي اساس (ددوي په نظر) پاکستان مجبوردي چي دخپلو ګټوپه خاطر دمرکزي آسیا داسلامي هیوادونو سره اړیکي ټینګ کړي اوپه افغانستان کي دیوپراخ بنسته حکومت له پاره لارهواره کړي، اوهلته په اصطلاح دبنسټ پالومخنیوي وکړي .

که څه هم دپاکستان دبهرنیو چارودوزارت ځیني آزادفکره (سیکولر) ماموړینو لادپخوا څخه په افغانستان کي دبنسټ پاله اسلامي حکومت دمخنیوي له پاره کارکاوه اودوخت حکومتونه ئي دي ته هڅول چي باید هلته داسلامي بنیادګرایي څخه دمخنیوي په خاطر غرب پالودلوته لاروکړل شي اودانظر دبهرنیوچارو دماموړینو خپل نظرنه وُبلکه دامریکا دجاسوسي اداري رایه اونظرؤ چي ددې خلکوپه خولوئي بیاناوه . خو دلته څه داسي مسلمان شخصیتونه موجود ؤ چي هغوي دروسي امپریالیزم ترڅنګ دامریکا دامپریالیزم څخه هم بدراتلل اوکوښښ یې کاوه چي افغانستان دګواني زوروژمونو دپنجي نه په څنګ اوهلته نوي اوځوان اسلامي حکومت وده ومومي . ماته دځوکالو پخوادامریکي دپخواني سفیر رابرت اوکلي اوهم دمجاهدینو له پاره دامریکا ځانګړي استاذي پیټرتامسن داجملي په یاد دي چي په مختلفو ځایوکي ئي ویلي چي "مونږ دحکمتیار وزرونه پري کړي، ترڅوکابل ته پري پرواز ونکړي" اوداچي ا" که څه هم دحکمتیار تنظیم منظم اوغښتلي تنظیم دي خومونږ به ئي پري نږدوچي په کابل کي حکومت وکړي " اوداچي دایواځني تنظیم دي چي ډیرروسان وژلي شي، په منظمه توګه کارکولي شي خودا مسئله یواځي ترهمدي ځایه ده مونږ به هغه دسیاسي واکمني لاسته راوړلو ته پري نږدو" (کویټه مطبوعاتي کانفرانس) .

همدانظربیادپاکستاني وزارت خارجه
دمامورینو دخولي په بل منګ
بیانیده ، خواوس وضعه نوره هم
بدله ښکاري ، څکه هغه دلچسپي
چي امریکا یانو په افغانستان کي
دروسي مداخلت نه وروسته درلوده
اوهغه کومکونه ئي چي دروسي
مداخلت وروسته دپاکستان سره کول
، نوره دهغوي هغه دلچسپي له
منځه تللي اونه یواځي له منځه
تللي بلکه برعکس امریکایانو
دپاکستان سره خپلي پنځه سوه
میلوني ډالره کلني نظامي
اواقتصادي مرستي هم بندي کړي
اوددي په مقابل کي ئي خپل ټول
توان دهندوستان په لورمتوجه کړي
په داسي حال کي چي هندوستان
تراوسه پوري دروسي بلاك کلك غړي
اودامریکا ددښمنانو څخه حسابیده
. همداراز امریکایانو نن پاکستان

داتومي قوت ته درسیدو څخه
دمخنیوي په خاطر دي هیوادته
دتروریستي هیواد په صف کي
ځاي ورکړي اونیغ په نیغه ورته
تهدیدونه رالیږي چي مهمترین مثال
ئي دسناتور پریسلرخبري
کنفرانسونه ؤ چي هم ئي په ډهلي
کي اوهم ئي دلته دپاکستان په
پایتخت اسلام آباد کي پاکستان په
دي تورن کړچي په هندکي دجدایي
غوښتونکي (تروریستي) ډلو
ملاتړکوي او هغوي ته راز رازوسلي
اومهمات وررسوي . همدارازئي هند
داتومي تکنالوژي په هکله حق
په جانب اوپاکستان ئي داسلامي بم
په جوړولو اوداتمي تکنالوژي په
پرمختګ کي داتمي وسلي په لاسته
راوړلومتهم کړ حال داچي هند په
۱۹۷٤ کال کي خپله لمړني اتمي
چاودنه کړي اوپاکستان لاتراوسه
پوري داتمي تکنالوژي دپرمختګ
څخه انکاري دي . دجنرال جنجوعه
سفرامریکاته یودهغي کړیوڅخه و
چي غوښتل ئي امریکایان په دي
راضي کړي ترڅوپاکستان سره
خپلي اقتصادي مرستي ولوکه په
نظامي ساحه کي هم نه وي خوبه
نورو ساحوکي دوباره په خپل ځاي
کړي . نوددي له پاره چي محترم
جنرال خپل سفربري مند وګرزوي
اوبیرته پاکستان ته ډك لاسونه
راوګرزي ، په همدي خاطرهغه دخپل
سفردمخه جنرال حمیدګل چي دملتان
دقل اردو سترقوماندان واوپخوائي
دپاکستان دنظامي استخباراتو
داداري ریاست په غاړه درلود په
ناګاهانه توګه دهغه ځایه څخه
تبدیل اود پاکستان دوسلو
دجوړولودفابریکي رئیس ئي وټاکه
. دجنرال حمید ګل په هکله ویل
کیږي چي نوموړي دپخي عقیدي
سم مسلمان دي اوامریکائیان دهغه
څخه ګیله لري چي په منطقه کي
دبنسټ پالوملګري دي. که څه هم
جنرال حمیدګل اوس (دراپورونو له
مخي) استعفاورکړي اوویلي یي
دي چي خرنګه چي هغه یوعسکري
منصبدادي اوپه انجنیري کي مهارت
نلري نوپه دي اساس نه شي کولي
دفابریکي درئیس په توګه خپلي
دندي ته دوام ورکړي ، خوبیا هم
دهغه استعفادامریکا یانو زړونه
یوڅه یخ کړل . ددي نه اخوادجنرال
جنجوعه دویم قدم دادي چي ، په
ایتالیا کي دافغانستان پخواني
معزول پادشاه ویني . څکه چي په
دي ترتیب شاید محترم جنرال
وتوانیږي چي دامریکا یانو
دپخوانیو ارزوګانو سره سم ئي. قدم
اینښي وي اودهغوي زړونه دپاکستان
په هکله نورهم نرم کړي.
زوړپاچاچي دسردارداودله
کودتاسمدستي وروسته ۱۹۷۳
عیسوي کال کي دسترګو دمعاینې
په بهانه لندن ته تللي ؤ ، بیا هلته
په ایتالیا کي دخپلي ټولي کورني
سره په پوره ارامتیا سره ژوند
سباکوي، څوکله چي روسي قواو په
افغانستان کي دافغان قوم دیونیم
میلیون خلکو دشهیدانولو وروسته
رسواماتي وخوړه نودهمغي ورځي
راهیسي امریکا اونورو استعماري
ځواکونو هڅه پیل کړي چي هغه
یوځل بیا په افغانستان حاکم کړي .
دپخواني پادشاه له پاره دتیروکلونو
په دوران کي ډیر تبلیغات وشول
اوویل شول چي ګویا یواځني
خنډچي بایدپخواني پادشاه ددوهم
ځل لپاره پاچاشي ، هغه دپاکستان
حکومت دي څکه چي تراوسه ئي
ورته ویزه ورنکړه چي پاکستان ته
راشي، خداي خبرچي پخواني
پادشاه به ددي هڅه کړي وي اوکه نه
، خودپاکستان حکومت هم په هغه
وخت کي لیدل اوهم ئي په دي وخت
کي ویني چي دپخواني پادشاه
راتګ پاکستان په افغان ولس
څومره بداثرکوي اوآیا دوي ،
وتوانیږي چي دااستفراق کړي مړي
بیرته دافغان مجاهدولس په ستوني
کي ورننه باسي ؟ همدارازپخواني
پادشاه هم دخپل وجدان اوضمیر په
وړاندي (که ئي ولري) دومره
خجله دي چي ورته ممکن نه ده
دافغان ولس سره مخ شي . یواځي
دتبلیغاتو په خاطر هاندکوي یوڅه
وواني هغه هم که بل څوك ئي ورته
ولیکي . اوس نوددي په خاطرچي
امریکایان دپخواني پادشاه له پاره
په قوم کي ځاي پیداکړي ښه اوغوره
لاري داولیدله چي څوك دناخون
ګیردچاقو وارپري وکړي اوبیا ورته
ښه ډیرتبلیغات وکړي چي دادي
پخواني پادشاه دویني څاڅکي هم
دافغانستان دملت په خاطر توي
شو، اوهمداسي وشول ،

يوخبرنګارئي پيداکړ هغه ئي
ورولېږه . دخبرنګار اودپښتواني
پادشاه فلم واخستل شواوعکسونه
ئي مطبوعاتوله پاره تيارشول،
خووروسته ورته خبرنګاروائي چي
زه خوتاوژنم اوبيا پري دناخونګير
په چاقو لږڅه خراشه پيداکوي اوپه
دي ترتيب دتبليغاتو ټول کانالونه
په کارلويږي ، دامريکا ددي اقدام
څخه مقصد داوٌ چي دهغه له پاره په
افغان ولس کي همدردي راپيداکړي
اوبيا ئي دپاکستان په مقاماتو هم
ومني ، دپاکستان مقامات په
هماغه لومړي ورځ دهرچاترمخه
دپښتواني پادشاه دهمدردي له پاره
ورودانګل اوجمهوررئيس
اوصدراعظم دواړوبي دهغي په هکله
بيانونه نشرکړل اوداعمل ئي په
کلکه وغنده .

دامريکاداپلان په ډېره محتاطه
توګه پرمخ روان دي، اوآصف نواز
جنجوعه هم دامريکائي پلان سره
ديوځاي تللو په خاطر اود پاکستان
له پاره دامريکا دزړه دلاسته راوړو
له پاره دخپل سفرپه لياركي هڅه
وکړه ترڅو پښتواني پادشاه ووينې ،
باخبره سرچيني وائي چي دايتاليي
حکومت غوښتل دالېدنه دپښتواني
پادشاه په" ويلا " کي ترسره شي
. خودپاکستان دمقاماتو هڅه
داوه چي دالېدنه دپاکستان په
سفارت کي وشي . اما زوړ پاچادې
ته حاضرنه شو چي دپاکستان
سفارت ته ولاړشي نوهغه ؤ چي
خپل زوم ئي دليدني له پاره
ورولېږه . اوپه دي ترتيب هغه څه
چي پاکستاني مقاماتو غوښتل
ترلاسه يي نه کړل . اوپه دي ترتيب
پاکستاني جنرال دظاهرشاه دليدلو
پرته امريکاته ولاړ. باوري منابع هم
اوپاکستاني مقامات هم دواړه په دي
اقرارکوي چي په امريکاکي
دپاکستاني جنرال هغسي استقبال
چي دوي يي منتظر ؤونشو . او
هغه قدمونه ئي چي دامريکا
دخوښي په خاطر اخستي و نه
يواځي په اوبوکي ولاړل، بلکه
امريکا خپل يوسناتورپريسلرمنطقي
ته راولېږه اوپه دي ترتيب ئي دهغي
په خوله دلته داسي خبري وکړي
ترڅودپاکستان دصدراعظم
نوازشريف سفرفرانسي ته دتوشعاع
لاندي ونيسي ، اوهغه ټرونونه
چي غوښتل يي دفرانسي په نظامي
چاروکي لاسليك کړي شکمن
وګرزوي ، داچي جنرال آصف به له
امريکي څخه څه راوړي په ډاګه ده
اوهغه داچي امريکا پاکستان ته په
ډاګه ويلي : ترڅوچي داتمي وسلو
دپراختيا ټرون لاسليك نه کړي
اوخپل ټول اتمي مواد ضايع نکړي
ترهغي به ورسره نه خوپه نظامي
ډګرکي اونه په اقتصادي ډګرکي
کومك وکړي .

له بلي خوانه دبهرنيو چارو دکوم
مامور پرځاي دپاکستاني پوځ دلوي
درستيز دکتني څخه ممکن
دپاکستاني مقاماتو يوهدف داهم ؤ
چي امريکايان په دي وپوهوي چي
ګويا په افغانستان کي په اصطلاح
دبنسټ پالني دمخنيوي له پاره نه
يواځي دپاکستان دبهرنيو چارو
وزارت بلکه پوځ هم چي تريوه وخته
پوري بنسټ پال بلل کيده اوس
ملګري دي ، خودي کارنه يواځي
دپاکستان مواقف نورهم دنړيوالو
ترمخ خام کړل بلکه په کورني توګه
ئي هم حکومت دپوره جنجالونوسره
مخامخ کړي، ځکه دپاکستان ولس،
اومنوره طبقه ټول دافغانستان
دپښتواني زرورژيمونوپه هکله پوره
تجربه لري . اوهغوي هغه څه
لاتراوسه دياده نه دي ويستلي چي
اسلامي هيوادونه جدايواځي پښتواني
شاهي رژيم چي داسلامي پاکستان
دغړيتوب مخالفت ئي دهندوانوسره
اوږه په اوږه دملل متحد په غونډه
کي کاوه . همداراز ظاهرشاه
دخپلي واکمني داوږديدو په خاطر
کله يوه ډله اوکله بله ډله دلته په
پاکستان کي دتخريبي عملياتوپه
خاطر دهندوانو په قومانده تقويه
کړي او ددي نوي جوړشوي اسلامي
هيواددتجزيي له پاره ئي يوه لحظه
هم دلاسه نه ده ورکړي . په دي
خاطردپاکستان مسلمان ولس
اودهغوي اکثره سياسي مشران
دخپل دغي حکومت څخه چي
دافغان جهاد سره دملاتړدشعارپه
واسطه منځ ته راغلي ترفشارلاندي
نيولي ترڅودغلط قدم داخستلو
څخه ئي مخنيوي وکړي .

دپاکستان دمقاماتو داګيله
چي ګويا دوي دپاکستان اعلي
مقامات دروسي فيدراسيون
دجمهوررئيس دمعاون ښاغلي
رتسکوي ددوري په وخت کي
دروسي بندي دنه خوشي کولو په
اساس مايوس کړي ډېره عجيبه
بريښي ، ځکه لومړي داچي
افغان قوم آزاد اوخپل واکي قوم دي
دپاکستان دولس ميلمستيا ته په
ډېره ورنه ستړګه ګوري خوداچي
افغان قوم دي دپاکستان دمقاماتو
دلاس آله وګرزي ډېره بي ځايه
خبره . دامعامله دافغان ولس او
روسانو ترمنځ ده ځکه روسي
بنديان دروسانودتجاوزپه نتيجه کي
مجاهدينو نيولي خو برعکس دافغان
ولس ځوانان روسانو يرغمل کړي
چي سرنوشت ئي لاتراوسه نه دي
معلوم .

بل داچي دروسي هيئت په
موجوديت کي دملي نجات دجبهي
مشر پروفيسورمجددي صيب يوکس
روسي ترکمن بندي پخپله

روتسکوي ته خوله کړ . (که څه هم دهغې په هکله ویل کیږي چې هغه عسکرچې نوم ئې بابا قل دي افغان ترکمن دي) . ددي نه اخواپه افغانستان باندې دروسي تجاوزپه ورځ ددې پرځای چې دروسیې په مقابل کې دنفرت اظهارشوي وي دجمعیت اسلامي مشر پروفیسورربانې دري کسه روسي عسکر چې دپنځه اوشپږو کالو راپدیخوا دمجاهدینوپه ولکه کې وُ روسي سفارت ته تسلیم کړل . نه پوهیږو دپاکستان مقاماتو څوکسه په کاروُ. ځکه چې څلورکسه خوورېري سږو‌ل شول. خودلته ممکن ددوي هدف دروسي سلواك بندیانو څخه وي چې هغه ټول دحزب اسلامي په ولکه کې دي . اودپاکستان مقاماتو په بیابیا داخبره کړي چې باید انجنیرحکمتیاربندیان ورخوشي کړي واي . اما هغه څه چې انجنیر حکمتیار دمجاهدینو هیئت ته مسکوته دتللو دمخه وویل هغه همداوچې روسان غواړي یواځې اویواځې خپل جنګي بندیان له موږه یوسي اوداهغه اخري پانه ده چې موږ ئې باید په زیرکي سره استعمال کړو، بیا دادمجاهدینو دهیئت مسئولیت دي چې روسانو ته بندیان خوشي نه کړي نه دحکمتیار، ځکه چې اسلامي حزب په خپله ددې ترون په هکله هیڅ مسئولیت نه درلود . حزب اسلامي چې کوم موقف په دې هکله خپل کړي بالکل اصولي او دمنطق په بنسټ ولاړموقف دي . ځکه حزب اسلامي وائي چې دبندیانوموضوع باید دبرابري په اساس وي ، روسان دې زموږ دورکوشوو څلویښت زره وګړو په هکله معلومات راکړي موږبه ئې دټولو بـندیانو اوورکو خلکولستونه

ورکړو. اویادي داموضوع دافغانستان دموضوع دکلي حل پوري اړوند کړي، کله چې افغانستان آزاد شودامسئله دغورلاندې نیول کیدي شي . په دي اساس پاکستان چې په مجاهدینو دبندیانو دخوشي کولو دومره فشاراچوي نوباید خپلوروسي دوستانو باندي هم دافغان ولس دورکوشووګړودلستوٚاوځاي دتهیه په هکله زور راوړي که روسان انسانان دي نوموږ هم انسانان یو، که دهغوي میندې ، خویندې اوکورني موجودي وي نوزموږ هم شته ، هیڅوك اوبونه دي راوړي زموږټوله معامله باید په برابر ي ترسره شي . عجولانه قدم هغه خلك اخلي چې دخپل ځان له پاره په آینده کي دمقام اوځاي پلټونکي اوسي . په دي هکله باید له هماغه لومړیو ورځوڅخه پوره فکر شوي واي اوهیڅ یوئې ترهغي نه واي ورخوشي شوي ترڅوچې زموږ دورکودرك نه واي معلوم .

دپاکستان داقتصادي امورودمملکت وزیرسردار آصف په ۱٦دجنوري په یوه غونډه کي دیپلوماتانوته دخپل ۲۰ ورځني سفرپه هکله چې روس او ورسره مرکزي آسیااسلامي هیوادونو ته ئې درلودہ،معلومات ورکړل اوونې ویل چې زموږسره دهغوهیوادونو دتجارت په لارکي یواځني خنډافغانستان دي، باید په افغانستان کي داسي پراخ بنسټه حکومت منځته راشي چې هغوهیوادونوته هم دمنلو وړوي نوموړي وویل چې دافغانستان شمالي ګاوندي هیوادونو پاکستان ته اخطار ورکړي چې نه باید په افغانستان کي یوبنسټ پاله حکومت

منځته راشي نوموړي دافغانستان دراتلونکي په برخه کي اندیښنه څرګندوي اووائي چې که چیري په افغانستان کي بنسټ پاله ډلي حکومت په ولکه کي راوړي نوممکن ډیر تاجك ، ازبك اوترکمن بیرته هغوهیوادوته هجرت وکړي اوپه دي ترتیب به نوي ستونزي راپیداشي . نوموړي مخکي واي چې که چیري په افغانستان کي داسي یوپراخ بنسټه حکومت منځته راشي چې ګاونډي هیوادونه هم پري راضي شي نوبیا دافغانستان څخه دریل دقطاراوسینه ترمرکزي آسیا پوري خپره کړي ...

دپاکستان نوموړي وزیر پرته له دې چې دخپل هیواد دتجزیې دمخنیوي په هکله فکروکړي دافغانستان په هکله اندیښمنددي . حال داچې دپاکستان دتجزیې مخنیوي که چاکړي ،نو هغه دافغانستان مسلمان قوم دي . ځکه په پاکستان کي دډیرې مودې راهیسي دآزادۍ په نوم تحریکونه چې دهندوانو اوروسانولخواګارنتي شوي واو دکابل دهغه وخت زمامدارانو (دظاهرشاه په شمول) له لارې پلي کیدل هم په بلوچستان ، په صوبه سرحد اوصوبه سندکي • خوپه افغانستان کي داسلامي پاڅون اوهلته دکمونیزم اوسري امپراطوري له ماتې وروسته چې زموږ ملت په کي خپل یونیم میلیون قهرمانان ځارکړل پاکستان داتحریکونه هم دمایوسي اوماتي سره مخ شول اونن همغه تجزیه غوښتونکي دجناب سرداراصف ترڅنګ په حکومت کي ګونډه دي هغه جناب باید داپه یادولري چې افغانان دعقیدې په بنسټ یودبل سره یوموټي دي دوي له تراوسه دغربي امپریالیزم دملیت نعارې شاته پورې وهلي په دوي کي

